# المدثر

**مکی سورة دی ۵۶ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ١

**ای( پیغمبره، ای د وحې له هیبته) په څادر کې نغښتی خوبه وړیه!**

قُمۡ فَأَنذِرۡ ٢

**( د راحت او آرام وخت دې تیر او د بشریت د لارښوونې لوی مسؤلیت درپه غاړه دی نو) راپورته شه( او خلک د کفر او عصیان له ناوړو عواقبو نه) وویروه.**

وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ٣

**او د خپل رب عظمت او لویی اعلان کړه( بې له شکه چې د الله تعالی د تعظیم او تقدیس بیان او ذکر، په زړه کې د الهی خوف او تقوی د پیدا کیدو تر هر څه مقدم شرط دی).**

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ٤

**( او د خپل ځانی طهارت په شان) خپل لباس( او نفس هم له فخر، غرور، ریا، نمایش او هر ډول اخلاقی فساد څخه) پاک او مطهر وساته .**

وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ ٥

**او( لکه چې ستا معمول دی د تل لپاره د بتانو او شرک له) ناپاکیو او کثافاتو څخه ځان لیرې ساته.**

وَلَا تَمۡنُن تَسۡتَكۡثِرُ ٦

**داسې ښیګڼه مه کوه چې بدل او معاوضه یې غواړې (د نبوت ستره وظیفه چې د الله تعالی د بندګانو د لارښوونې لپاره درته سپارل شوې، پام چې ته یې احسان په خلکو بار نه کړې او دنیوی امتیازات ترې ونه غواړې. چې احسان کوې مخلصانه یې کوه. چې بخشش او سخاوت کوې نو د الله تعالی لپاره یې کوه او خپله دنیوی ګټه او معاوضه پکې مه لټوه).**

وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ٧

**( د اسلامی دعوت او تبلیغ په لار کې تکالیف او کړاوونه په سړه سینه وزغمه) او خپل رب ته صبر وکړه.**

فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ ﴿٨﴾

**نو کله چې د صور( دويمه) شپيلۍ وغږول شي.**

فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾

**دا به ډيره سخته ورځ وي.**

عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴿١٠﴾

**د کافرانو لپاره به آسانه، نه وي.**

ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴿١١﴾

**ما پريږده او( وليد بن مغيره) چې يو سر(بې ياره او بې مدګاره) مې پيدا کړی و( نه يې مال او شتمنی وه او نه يې وجاهت او رياست) .**

وَجَعَلْتُ لَهُۥ مَالًا مَّمْدُودًا ﴿١٢﴾

**او بيا مې ډيره لويه شتمنی ورکړه.**

وَبَنِينَ شُهُودًا ﴿١٣﴾

**او( لس داسې) ځامن مې ورکړل چې(د ده هر امر ته) تابعدار ولاړ( په ټولنه کې د نوم او رسوخ لرونکی، او رايه او ګواهی يې په هره مسأله او غونډه کې قاطعانه او محترمه ګڼل کيږی چې په دغو ځامنو کې يې يو هم خالد بن وليد دی).**

وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمْهِيدًا ﴿١٤﴾

**او (د عيش عشرت، عزت او قومی اقتدار او عزت ټول وسايل او) ښه شرايط مې ورته برابر کړل.**

ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ ﴿١٥﴾

**خو بيا يې هم( د الهی پيرزوينو شکر اداء نه کړ) بلکه لا زياتو( دنيوی او اخروی نعمتونو ته يې هم د حرص او) طمعې سترګې نيولی دی.**

كَلَّآ إِنَّهُۥ كَانَ لِءَايَٰتِنَا عَنِيدًا ﴿١٦﴾

**بيشکه چې دی زمونږ د آيتونو سرسخت دښمن دی.**

سَأُرْهِقُهُۥ صَعُودًا ﴿١٧﴾

**نو زر به يې د ( اور د عذاب) په پیچومی ور وخیژوم.**

إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾

**( د مکې د کفارو او مشرکینو په یوه غونډه کې چې د ګردې عربی نړۍ د حاجیانو د هرکلی لپاره جوړه شوې وه،ولید ته اختیار ورکړی شو چې باید حاجیانو ته د مبارک قرآن او پیغمبر د دعوت د باطل ښودلو لپاره یو قناعت بښونکی دلیل وړاندې کړی) هغه له ډیر فکر نه وروسته د څه خبرې جوړولو هڅه وکړه.**

فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾

**نو مرګ او تباهی دې وی په هغه او جوړه کړې خبره یې.**

ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾

**بیا دې تباه او هلاک شی په دغه جوړه کړې خبره یې.**

ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾

**بیا یې( د غونډې ګډون کوونکو ته) وکتل.**

ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾

**بیا یې مخ تریو او تندی یې ګونځې کړ.**

ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾

**بیا یې( په کراهت سره) شا واړوله او تکبر یې وکړ.**

فَقَالَ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾

**نو ویې ویل: (مونږ به د عربی نړۍ ټولو حاجیانو ته همدا خبره وکړو چې) دا قرآن (له پخوانیو ساحرانو نه) راپاتې جادو دی.**

إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ ﴿٢٥﴾

**او له انسانی کلام نه غیر ورته بل نوم نشم ورکولی.**

سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾

**( الله تعالی فرمایی چې) زر به یې سقر( سوزوونکی اور)ته وغورځوم( چې د خپل عناد او تکبر سزا ووینی).**

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾

ته څه پوهیږې چې سقر څه( او عذاب یې څومره سخت)دی؟

لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾

( هغه اور دی) چې انسان پکې نه مری او نه پکې ژوندی پاتې کیږی.

لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾

د بدن پوستکی کاملاً سوزوی.

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾

نولس تنه ملایک یې څوکیداری کوی. ===========

وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَـٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَـٰٓئِكَةً ۙ وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟
لِيَسْتَيْقِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ وَيَزْدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِيمَـٰنًا ۙ وَلَا يَرْتَابَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟
ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۙ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْكَـٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَـٰذَا
مَثَلًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا
هِىَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾

او د دوزخ د ساتلو لپاره مو ملائک مؤظف کړی چې د شمیر ټاکل یې د کافرانو لپاره یو ازمیښت دی، ترڅو اهل کتاب باور پیدا کړی( چې قرآن هم د دوی د کتابونو په شان آسمانی کتاب او د هغو متمم او تصدیق کوونکی دی) او د مؤمنانو ایمان هم ورسره زیات شی، او اهل کتاب او مؤمنان( د قرآن د حقانیت په باب) شک او تردید، و نه کړی.او د نفاق په مرض اخته ناروغان او کافران ووایی چې له دغو( نولسو) پرښتو له ټاکلو څخه د الله تعالی هدف څه دی؟ په دې توګه چې الله تعالی هرچاته اراده وکړی( د حقایقو له بیان او اتمام حجت نه وروسته یې) ګمراه کوی، او چاته چې اراده وکړی د هدایت په مستقیمه لاره یې روانوی.او ستا د رب د لښکرو شمیر یوازې پخپله هغه ته معلوم دی او بس. او دا قرآن د بشر لپاره د پند او نصیحت یوازینۍ مرجع ده.

كَلَّا وَٱلْقَمَرِ ﴿٣٢﴾

نه داسې نه ده( چې کافران یې د قرآن، پیغمبر او قیامت په باب ګومان کوی.) قسم په سپوږمۍ.

وَٱلَّيۡلِ إِذۡ أَدۡبَرَ ﴿٣٣﴾

او قسم په شپه چې په شا ستنه شی.

وَٱلصُّبۡحِ إِذَآ أَسۡفَرَ ﴿٣٤﴾

او قسم په سهار( چې د شپې له تیاره پردې) خپل روڼ مخ راوباسی.

إِنَّهَا لَإِحۡدَى ٱلۡكُبَرِ ﴿٣٥﴾

بې له شکه چې( د قرآن نزول او ټول بشریت ته د آخر زمان پیغمبر راتګ) یوه عظیم الشأنه کارنامه ده.

نَذِيرٗا لِّلۡبَشَرِ ﴿٣٦﴾

چې بشری پرګنو ته خبر داری ورکوی.

لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَتَقَدَّمَ أَوۡ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾

بیا د هر چا خوښه چې( ایمان او نیکو چارو ته) مخه کوی او که( په کفر، سرکشی او ګناه کې) پاتې کیږی.

كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾

بېشکه چې هر نفس د خپلو اعمالو ذمه وار دی.

إِلَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡيَمِينِ ﴿٣٩﴾

خو د نیکمرغو کسانو حال بیخی جلا دی.

فِي جَنَّٰتٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾

چې په جنتونو کې به له یو بل نه پوښتنې کوی.

عَنِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٤١﴾

د ګناهکارانو (حال احوال به ترې پوښتی).

مَا سَلَكَكُمۡ فِي سَقَرَ ﴿٤٢﴾

( او ګناهکارانو ته به وایی چې) ولې دوزخ ته وغورځول شوی.

قَالُواْ لَمۡ نَكُ مِنَ ٱلۡمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾

هغوی بهووایی: لمونځونه مو، نه اداء کول.

وَلَمۡ نَكُ نُطۡعِمُ ٱلۡمِسۡكِينَ ﴿٤٤﴾

**بې وزلو او مسکینانو ته مو کپ ډوډۍ نه ورکوله.**

وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلۡخَآئِضِينَ ﴿٤٥﴾

**( بس لوی کار مو دا و چې د اسلام او پیغمبر په ضد به مو) د د ښمنانو د ملنډو او مسخرو غونډې ګرمې ساتلې.**

وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٤٦﴾

**او د جزا او سزا ورځ مو دروغ ګڼله.**

حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلۡيَقِينُ ﴿٤٧﴾

**تر هغه چې د مرګ نیټه مو راورسیده.**

فَمَا تَنفَعُهُمۡ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾

**( الله تعالی فرمایی: اوس ) دوی ته د هیڅ شفاعت کوونکی شفاعت ګټه نه رسوی.**

فَمَا لَهُمۡ عَنِ ٱلتَّذۡكِرَةِ مُعۡرِضِينَ ﴿٤٩﴾

**نو( په کافرانو) څه شوی چې له پند او نصیحت ( نه ډک مبارک قرآن) نه مخ اړوی.( له همدې آیت نه ثابتیږی چې په تیرو آیتونو« و ما هی الا ذکرا للبشر» او« انها لاحدی الکبر» او « نذیرا للبشر» کې له « ذکر» او «نذیر» نه هدف ترجیحا مبارک قرآن دی).**

كَأَنَّهُمۡ حُمُرٞ مُّسۡتَنفِرَةٞ ﴿٥٠﴾

**( کافران) لکه تریدلی ځنګلی خره.**

فَرَّتۡ مِن قَسۡوَرَةِۭ ﴿٥١﴾

چې د زمرى له منګولو تښتيدلى وى.

بَلۡ يُرِيدُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ أَن يُؤۡتَىٰ صُحُفٗا مُّنَشَّرَةٗ ﴿٥٢﴾

بلکه هر يو يې غواړى( چې د الله تعالى له لورى) يو پرانستى ليک ترلاسه کړى.

كَلَّاۖ بَل لَّا يَخَافُونَ ٱلۡأٓخِرَةَ ﴿٥٣﴾

دا لا څه، بلکه دوى له آخرت نه هم ويره نه لرى.

كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذۡكِرَةٞ ﴿٥٤﴾

نه - (سرخلاصى ليک ته اړتيا نشته) بلکه قرآن پخپله پند او خبردارى دى( چې د ټولو نړيوالو لپاره کفايت کوى).

فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿٥٥﴾

نو هر څوک چې غواړى پند او عبرت ترې اخستى شى.

وَمَا يَذۡكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ هُوَ أَهۡلُ ٱلتَّقۡوَىٰ وَأَهۡلُ ٱلۡمَغۡفِرَةِ ﴿٥٦﴾

او يوازې هغه کسان به ترې پند واخلى چې د الله تعالى تائيد او مرسته ورسره وى، هغه به پرهيزګار وى او د الله تعالى رحم او ښښنې ته به يې د اميد سترګې نيولى وى.

« تمت سورة المدثر بفضل الله و رحمته»

=====================